د افغانستان اسلامي امارت

**د ارشـــــاد، حـــــج او اوقافـــــو وزارت**

**د مساجدو او حُسَینیو د ارشاد او انسجام لوی ریاست**

دجُمعې ورځې د خطابت موضوع او لیکلی تقریر او بیان چې د هیواد

دمرکز او ولایاتو ټولو خطیبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې لیږل کیږي.

---

**۳۰/ صفر المظفر /۱۴۴۸ هـ، ق مطابق ۲۳ / اسد/۱۴۰۵هـ، ش**

# د اشغال څخه د افغانستان آزادي د وینو په بیه اخیستل شوې، او ساتنه یې زمونږ د ټولو شرعي او ملي وجیبه ده.

بِسمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيم

الحمدُ للّٰهِ ناصرِ المَظلُومِينَ، ومُنْجِي المُستَضعَفِينَ، وقاصِمِ الجَبابِرَةِ والمُتَكَبِّرِينَ، وأشهَدُ أنْ لا إلهَ إلّا اللّٰهُ وحدَهُ لا شَرِيكَ له، وَليُّ الصّالحين، وَعَدَ عبادَهُ المؤمنينَ بالنَّصرِ والتَّمكِينِ، فقالَ سبحانَهُ:(وَنُرِيدُ أَن نَّمُنَّ عَلَى الَّذِينَ اسْتُضْعِفُواْ فِي الأَرْضِ وَنَجْعَلَهُمْ أَئِمَّةً وَنَجْعَلَهُمُ الْوَارِثِينَ وَنُمَكِّنَ لَهُمْ فِي الأَرْضِ).[1]، وأشـهَدُ أنّ سَـيِّدَنَا مُحَمَّدًا رسولُ اللّٰهِ، إمَامُ المُجَاهِدِينَ، وقَاهِرُ الكَفَرَةِ والمُشرِكِينَ، اللّهمّ صَلِّ عليهِ وعلى آلِهِ وصَحْبِهِ أجمعينَ، والتَّابعِينَ لهم بإحسَانٍ إلى يومِ الدِّينِ، أمّا بعد:

قال الله سبحانه وتعالى:(كَمْ مِنْ فِئَةٍ قَلِيلَةٍ غَلَبَتْ فِئَةً كَثِيرَةً بِإِذْنِ اللَّهِ وَاللَّهُ مَعَ الصَّابِرِينَ).[2]

**دافغانستان پتمن ولسه!**

**السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته.**

نن زمونږ د وینا موضوع د یوه مسلمان ملت لپاره له ډېر اهمیت څخه برخمنه موضوع ده.(د اشغال څخه د افغانستان آزادي د وینو او قربانیو په بیه ترلاسه شوې، او د هغې ساتنه زمونږ د ټولو شرعي او ملي وجیبه ده) ټاکل شوی ده.

افغانسـتان هغه هېواد دی چې د تاریخ په اوږدو کې یې ولس د خپل دین، خپلواکۍ، عزت او خپل هېواد د ساتنې لپاره سترې قربانۍ ورکړې دي. زمونږ د پلرونو، نیکونو او د دې خاورې د ډېرو خلکو وینې د دې خاورې په غرونو، درو او دښتو کې تویې شوې دي.

**مجاهد ولسه!**

سباته د اسد دمیاشتې په ۲۴ تاریخ د افغانستان دکفري اشغال څخه د آزادۍ پنځمه کلیزه پوره کیږي. هغه آزادي چې د وینو په بیه اخیستل شوې ده.

د حق د لارې مجاهدینو خپلې وینې د افغانستان د آزادۍ په لاره کې نذرانه کړې، څوک شهیدان شول ، څوک زخمیان شول، څوک په بندیخانو کې د تورو تمبو شاته شهیدان سول، څوک په سپو وداړل شول، څوک په ډول ډول شکنجو شکنجه شول، په بې دفاع خلکو باندې شپنۍ چاپې واچول شوې، دپتمنو اوغیرتي افغانانو کورونه په ډېرې بې شرمۍ سره تالاشي شوې.

---

[1] -القصص:( ٥ ـ ٦)

[2] -البقرة: (٢٤٩)

دا هرڅه مجاهد ولس ددې لپاره وکړل چې خپل ګران ټاټوبی افغانستان د کفارو له ناپاکو قدمونو څخه وژغوري او د کفر پرځای په کې د الله تعالی وحدانیت قائم کړي، د کفري قانون پرځای په کې اســلامي او شرعي قانون نافذ کړي، د کفري عاداتو او تقالیدو پرځای په کې اصیل اسلامي او افغاني فرهنګ رائج کړي.

بې شـمیره مجاهدین د همدې مقصد لپاره په شهادت ورسیدل لکه چې الله تعالی فرمایلي دي: (مِنَ الْمُؤْمِنِينَ رِجَالٌ صَدَقُوا مَا عَاهَدُوا اللَّهَ عَلَيْهِ فَمِنْهُمْ مَنْ قَضَى نَحْبَهُ وَمِنْهُمْ مَنْ يَنْتَظِرُ وَمَا بَدَّلُوا تَبْدِيلاً).(۳)

ترجمه: ځینې له مؤمنانو څخه (داسې) سړي دي چې رښتیا کړې يې ده هغه خبره چې عهد کړی وو دوی له الله سره په هغې باندې (چې ثبات، استقامت في القتال دی) پس ځینې له دوی هغه دي چې تر سره يې کړ نذر خپل ( چې مړ شو یا شهید) او ځینې له دوی هغه دي چې انتظار کوي (دغه مرګ یا شهادت ته) او بدل يې نه کړ (عهد خپل یو ذره هم) په بدلولو سره.

بې شـمیره مجاهدینو د خپل تن خواږه اندامونه له لاسه ورکړل، چې بالآخره د شل کلن اوږد دردمنې مبارزې څخه وروسته حق برلاسی شو او باطل خوار او ذلیله شو او د(۵۲) ملکونو کفارو آخري امریکایي عسکر د محرم الحرام میاشتې په ۲۲ تاریخ کال ۱۴۴۳ هجري ، قمري کې له ګران افغانستان څخه په ډېره رسوایی سره ووتلو.

او لله الحمد د سپیڅلو مجاهدینو د هڅو ، هلو ځلو او قربانیو په نتیجه کې نن په ټول افغانستان کې اسلامي نظام حاکم دی او د افغانستان په هر کونج کې افغانان په ډاډمن امنیت کې د عزت ژوند کوي او د الله تعالی هغه وعده رښتیا شوه چې له مونږ سره يې کړی وه:(وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُم فِي الأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَى لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّن بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْنًا يَعْبُدُونَنِي لا يُشْرِكُونَ بِي شَيْئًا).(٤)

ترجمه: وعده کړې ده الله له هغو کسانو سره چې ایمان يې راوړی دی له تاسې او کړي يې دي ښه (عملونه) چې قسم دی خامخا به خلیفګان کړي (الله) دوی په ځمکه کې لکه چې خلیفګان کړي يې وو هغه کسان چې پخوا وو له دوی نه او خامخا ثابت قوي به وګرځوي هرمرو دوی ته دین د دوی هغه (دین د اسلام) چې غوره کړی دی (الله) دوی ته او هرومرو بدل به ورکړي هرو مرو دوی ته وروسته له ویرې د دوی له دښمنانو امن (او اطمینان) عبادت به کوي دوی زما شریک به نه پیدا کوي له ما سره هیڅ څیز.

حق ثابت شو او باطل زائل شو، لکه چې الله جل جلاله فرمایلي دي:(كَذَلِكَ يَضْرِبُ اللَّهُ الْحَقَّ وَالْبَاطِلَ فَأَمَّا الزَّبَدُ فَيَذْهَبُ جُفَاء وَأَمَّا مَا يَنفَعُ النَّاسَ فَيَمْكُثُ فِي الأَرْضِ).(٥)

ترجمه: په شان د هغه (ځګ) په مثل د دې (مذکورو مثالونو)بیانوي الله (مثالونه د) حق او باطل نو هر څه چې ځګ او خیری دی نو لاړ به شي په دغه حال کې چې پربوتی وي له نظره (او بې نفعې به وي) او هر څه هغه څیز چې نفع رسوي خلقو ته (لکه اوبه او یلي شوي فلزات) نو پاتې کیږي په ځمکه کې (للانتفاع).

مونږ د الله جل جلاله په دې خبره ایمان درلودلو چې فرمایلي دي:(وَنُرِيدُ أَنْ نَمُنَّ عَلَى الَّذِينَ اسْتُضْعِفُوا فِي الْأَرْضِ وَنَجْعَلَهُمْ أَئِمَّةً وَنَجْعَلَهُمُ الْوَارِثِينَ).(٦)

---

[۳] -الاحزاب: (۲۳)

[٤] -النور: (٥٥)

[٥] -الرعد: (١٧)

[٦] -القصص: (٥)

ترجمه:او اراده وکړه مونږ د دې چې منت احسان کېږدو پر هغو کسانو چې ضعیفان کړی شوي وو په ځمکه (د مصر) کې او چې وګرځوو منوږ دوی امامان (مقتدایان) او وګرځوو مونږ دوی وارثان (دملک د فرعون) او چې قدرت ورکړو مونږ دوی ته په ځمکه (د مصر او شام) کې.

مونږ د الله تعالی په دې وعده کلکه عقیده درلودله چې فرمایي:(عَسَى رَبُّكُمْ أَنْ يُهْلِكَ عَدُوَّكُمْ وَيَسْتَخْلِفَكُمْ فِي الْأَرْضِ فَيَنْظُرَ كَيْفَ تَعْمَلُونَ).(۷)

ترجمه: وویل موسی نژدې ده چې رب ستاسې هلاک کړي دښمن ستاسې او خلیفه به کړي تاسې په دغې ځمکې(ملک د مصر یا شام کې پس له هلاکه د قبطیانو) بیا به وګوري (الله) چې څرنګه عمل کوئ تاسې (شکر کوئ که کفران طاعت کوئ که عصیان چې هغسې جزا درکړي)

مونږ په شل کلنه مبارزه کې د الله تعالی څخه فتحه غوښتله او الله تعالی مو فتحه په نصیب کړه او دښمن مو رسوا او شرمنده شو او مونږ خپله فتحه ، کامیابي لمانځو، لکه چې الله تعالی فرمایلي دي:(وَاسْتَفْتَحُواْ وَخَابَ كُلُّ جَبَّارٍ عَنِيدٍ).(۸)

ترجمه:او فیصله (فتح او نصرت) وغوښت (انبیاوو نو منصور او مامون شول سره له مؤمنانو) او نامراده زیانکاره نا امیده شو هر یو متکبر سرکښ(ضدي عناد کوونکی له حق سره).

**دشهیدانو ، زخمیانو ، معیوبینو او د افغان ولس د قربانیو قدر باید وشي:**

هغو خلکو چې د خپل هېواد د آزادۍ لپاره یې قرباني ورکړې ده، د هغه قرباني باید هیره نه شي. مونږ باید پری نږدو چې د هغوی ارمانونه ضائع شي او مونږ باید د هغوی د ارمانونو د تحقق لپاره شپه او ورځ کوښښ وکړو، چې هغه په آزاد، خپلواک او بې طرفه افغانستان کې دالهي قانون نافذول دي.

که چیرې مونږ په افغانستان کې اسلامي نظام قائم او دائم ساتلی وي ، نو په حقیقت کې د شهیدانو ارمانونه به مو ژوندي ساتلي وي. د الله تعالی په لار کې د شهیدانو د تل پاتې یاد په اړه الله تعالی فرمایلي دي:(وَلا تَحْسَبَنَّ الَّذِينَ قُتِلُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ أَمْوَاتاً بَلْ أَحْيَاءٌ عِنْدَ رَبِّهِمْ يُرْزَقُونَ * فَرِحِينَ بِمَا آتَاهُمُ اللَّهُ مِنْ فَضْلِهِ وَيَسْتَبْشِرُونَ بِالَّذِينَ لَمْ يَلْحَقُوا بِهِمْ مِنْ خَلْفِهِمْ أَلا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلا هُمْ يَحْزَنُونَ * يَسْتَبْشِرُونَ بِنِعْمَةٍ مِنَ اللَّهِ وَفَضْلٍ وَأَنَّ اللَّهَ لا يُضِيعُ أَجْرَ الْمُؤْمِنِينَ).(۹)

ترجمه:او له سره ګمان مه کوئ (ای محمده یا ای سامعه) پر هغه کسانو چې وژل شوي دي دوی په لاره د الله (جهاد) کې د مړو (مړه نه دي) بلکه ژوندي دي په نزد د رب خپل رزق ورته ورکولی شي (له جنتي ماکولاتو او مشروباتو څخه) په دې حال کې چې خوشاله دي دوی په هغه شي باندې چې ورکړي دي دوی ته الله له فضله خپله او خوشالیږي دوی (په راتلو د) هغو کسانو باندې چې لا نه دي رسیدلي دوی تر هغو پورې وروسته د دوی نه په دې شان سره چې نه به وي (هیڅ قسم) وېره په دوی باندې او نه به دوی (هیچېرې) غمجن کیږي ( دثواب په نقصان سره) خوشالیږي دوی په نعمت باندې له (جانبه) د الله او ( دده په) فضل باندې او په دې چې بېشکه الله تعالی نه ضایع کوي اجر د مؤمنانو (بلکه پوره یې ورکوي)

۷ -الأعراف:( ۱۲۹)

۸ -ابراهیم: (۱۵)

۹ -آل عمران: ۱۶۹-۱۷۱)

مونږ د نن ورځې موټرې ، مانۍ، مرفه ژوند غنیمت ونه ګڼو بلکې د شهیدانو د وینو د ساتلو لپاره یې فرصت وګڼو.

مونږ او تاسې باید دافغانستان آزادي دشهیدانو، زخمیانو او معیوبینو د قربانیو نتیجه وګڼو او د نن ورځې عزت د شهیدانو ، زخمیانو او معیوبینو مرهون وګڼو. دا باید هیر نه کړو چې د نن ورځې د آزادۍ نعمت د شهیدانو د وینو په بیه اخیستل شوی دی.

نن باید مونږ هغه استشـهادیان په یاد ولرو چې په خپلو ځانو پورې یې باروت وتړل او خپل وجودونه یې زمونږ او سـتاسـې د خوشحالی، سوکالۍ ، بقاء او آزادۍ لپاره ټوټه ټوټه کړل.

**دآزادۍ او د خپلواکۍ ارزښت:**

الله جل جلاله انسانانو ته ډول ډول نعمتونه ورکړي دي چې ددغو نعمتونو له جملې څخه آزادي او خپلواکي ده. او ددې نعمت په ارزښت هغه خلک او قومونه پوهیږي چې آزادي او خپلواکي نلري او دکفري زبرځواکونو په غلامۍ کې ژوند تیروي.

الله جل جلاله د آزادۍ، خپلواکۍ او فتحې څخه په قرآن کې ځای پرځای د ستر نعمت په توګه یادونه کړې ده. الله تعالی فرمایلي دي:(يَـٰأَيُّهَا الَّذِينَ ءَامَنُوا اذْكُرُوا نِعْمَتَ اللَّهِ عَلَيْكُم إِذْ هَمَّ قَوْمٌ أَن يَبْسُطُوا إِلَيْكُم أَيْدِيَهُمْ فَكَفَّ أَيْدِيَهُمْ عَنْكُمْ). (۱۰)

ترجمه: ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی یعنې ای مؤمنانو یاد کړی تاسې احسان د الله چې پر تاسې دی کله چې قصد وکړ یوه قوم د دې چې راوغځوي دوی تاسې ته لاسونه خپل( او تاسې مړه کړي) نو منع یې کړل لاسونه د دوی له تاسې څخه په یو بل مبارک آیت کې الله تعالی ددښمن په مقابل کې د مسلمانانو سره د نصرت او پر دښمن د غلبې یادونه کوي او فرمایي:(وَيَوْمَئِذٍ يَفْرَحُ الْمُؤْمِنُونَ بِنَصْرِ اللَّهِ يَنْصُرُ مَن يَشَاءُ وَهُوَ الْعَزِيزُ الرَّحِيمُ).(۱۱)

ترجمه:او په دغه ورځ (د غلبې د روم په پارس) خوشاله به شي مؤمنان په نصرت د الله (له کتابیانو سره په مجوسیانو) مرسته کوي (الله) له هر هغه چا سره چې اراده وکړي د نصرت یې او همدی دی ښه غالب قوي په انفاذ د احکامو ډېر رحم کوونکی .

الله تعالی قریشو ته فرمایي چې د هغه الله عبادت وکړئ چې تاسې ته ددښمن د ویرې څخه امان درکړ.( فَلْيَعْبُدُوا رَبَّ هَذَا الْبَيْتِ * الَّذِي أَطْعَمَهُمْ مِنْ جُوعٍ وَآمَنَهُمْ مِنْ خَوْفٍ).(۱۲)

ترجمه: نو ښایي چې بندګي وکړي دوی رب د دې کوټې(کعبې) ته هغه (رب) چې طعام خواړه یې ورکړي دي دوی ته په لوږې کې او امن یې ورکړی دی دوی ته له خوف ویرې څخه.

الله تعالی بني اسرائیلو ته فرمایي چې هغه وخت رایاد کړئ چې ددښمن د سلطې لاندې مو ژوند کولو او قسماقسم عذابونه یې درکول او بیا مونږ تاسې د دښمن څخه تاسې ته نجات درکړ.(وَإِذْ أَنجَيْنَاكُم مِّنْ آلِ فِرْعَونَ يَسُومُونَكُمْ سُوءَ الْعَذَابِ يُقَتِّلُونَ أَبْنَاءكُمْ وَيَسْتَحْيُونَ نِسَاءكُمْ وَفِي ذَلِكُم بَلاء مِّن رَّبِّكُمْ عَظِيمٌ).(۱۳)

[10] -المائدة:( ۱۱)
[11] -الروم:( ٤ ــ ٥)
[12] -قریش:(۳-٤)
[13] -الاعراف: (۱٤۱)

ترجمه: او یاد کړئ هغه وخت چې نجات درکړی وو مونږ (نیکونو د) تاسې ته له تابعانو د فرعون چې رساوه به یې تاسې ته سخت عذاب چې وژل به یې زامن ستاسې (چې نسل مو قطع شي) او ژوندی به یې پرېښودې ښځې(لونې) ستاسې (لپاره د خدمت) او په دغه (عذاب یا نجات یا ګردو کې نعمت یا مصیبت یا) ازمېښت وو له (طرفه د) رب ستاسې څخه ډېر لوی.

هرکله چې الله تعالی مونږ ته د زیرځواکونو په مقابل کې فتحه راکړه او آزادي او خپلواکي مو ترلاسه کړه ، نو باید چې په دې ستر نعمت شکر وباسو او د الله تعالی عبادت وکړو او د هغه په دستور عمل وکړو لکه څنګه چې الله تعالی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته فرمایلي دي:(إِذَا جَاءَ نَصْرُ اللَّهِ وَالْفَتْحُ * وَرَأَيْتَ النَّاسَ يَدْخُلُونَ فِي دِينِ اللَّهِ أَفْوَاجاً * فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ وَاسْتَغْفِرْهُ إِنَّهُ كَانَ تَوَّاباً ).([١٤])

ترجمه: کله چې راشي نصرت مرسته د الله او فتح (د مکې)او وینې به خلک چې ننوځي به دین د الله کې فوج فوج ډلې ډلې پس تسبیح پاکي وایه سره له حمد ثناء د رب خپل او مغفرت ښښنه وغواړه له ده څخه بېشکه چې دغه (الله) تل دی ښه توبه قبلوونکی (د مسغفرانو ګنهګارانو).

## د افغانستان د آزادۍ ساتنه زمونږ د ټولو شرعي او ملي وجیبه ده:

د افغانستان د آزادۍ ساتنه زمونږ د ټولو ولس او نظام شرعي او ملي وجیبه ده.

مونږ ته د افغانستان آزادي په تحفه کې نه ده راکړل شوې ، بلکې دافغانستان آزادي په ډېر لوړ قیمت مونږ ته تمامه شوی ده ، نو باید مونږ ټول په شریکه ددې قیمتي او ارزښتناکه  نعمت څخه ساتنه وکړو.

**۱-اسلام په ټوله معنا په ځانونو عملي کول.** د افغانستان د آزادۍ د ساتنې تقاضا داده چې مونږ په فردي او ټولنیز ژوند کې اسلام په ځانونو په ټوله معنا سره عملي کړو.

لکه چې الله جل جلاله فرمایلي دي:(يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا ادْخُلُوا فِي السِّلْمِ كَافَّةً وَلَا تَتَّبِعُوا خُطُوَاتِ الشَّيْطَانِ إِنَّهُ لَكُمْ عَدُوٌّ مُبِينٌ).([١٥])

ترجمه: ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی (یعنې ای مؤمنانو) ننوځئ په اسلام کې د هغه له ټولو شرایطو سره ټول او مه کوئ پیروي د قدمونو د شیطان بېشکه دا شیطان تاسې لره دښمن دی ښکاره

**۲-د خپل امیر او ولي الامر اطاعت او د هغه له نافرمانۍ څخه ځان ساتل.** د افغانستان د آزادۍ د ساتنې تقاضا داده چې مونږ دافغانستان ټول ملت او ولس باید د خپل زعیم او امیر اطاعت او حمایت وکړو او د هغه له نافرمانۍ څخه ځان وساتو ، ځکه د امیر او اسلامي زعیم له اوامرو او د نافرنیو په صورت کې افغانستان آزاد او خپلواک نشي پاتې کیدی. همدا وجه ده چې د اسلام مبارک دین د ولي الأمر او امیر په اطاعت امر کړی دی. په حدیث شریف کې راځي: عَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِىِّ -صلى الله عليه وسلم- أَنَّهُ قَالَ « عَلَى الْمَرْءِ الْمُسْلِمِ السَّمْعُ وَالطَّاعَةُ فِيمَا أَحَبَّ وَكَرِهَ».([١٦])

ژباړه:د حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما څخه روایت دی ، هغه وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: پر مسلمان لازم دي چې د امیر اطاعت وکړي په هغو چارو کې چې هغه د هغه خوښ وي او یایې خوښ نه وي.

---

[١٤] -النصر:(١-٣)

[١٥] -البقرة: (٢٠٨)

[١٦] - صحیح مسلم (٦/ ١٥)

په مونږ ټولو فرض دي چې د خپل امیر او نظام په حمایت کې یو دبل سره لاسونه ورکړو او ترڅو پایداره او دوامداره خپلواکي او آزادي ولرو . او د هغو خلکو مخه په شریکه ونیسو چې په دې اسلامي، آزاد او خپلواک افغانستان کې بې نظمي او خرابکاري کوي

دا زمونږ شرعي او ملي وجیبه ده چې د هغه چا سره مقابله وکړو چې د افغانستان دمشروع نظام او شرعي ولي الأمر په مخالفت کې راوځي . شریعت مونږ ته امر کوي چې دداسې خلکو سرونه غوڅ کړئ چې ستاسې وحدت او یووالی ننګوي.

په حدیث شریف کې راځي: عَنْ عَرْفَجَةَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- يَقُولُ « مَنْ أَتَاكُمْ وَأَمْرُكُمْ جَمِيعٌ عَلَى رَجُلٍ وَاحِدٍ يُرِيدُ أَنْ يَشُقَّ عَصَاكُمْ أَوْ يُفَرِّقَ جَمَاعَتَكُمْ فَاقْتُلُوهُ ».[١٧]

ژباړه: د حضرت عرفجه رضي الله عنه څخه روایت دی ، هغه وایې چې ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه واوریدل چې داسې یې وفرمایل: څوک چې تاسې ته راشي او ستاسې کار راټول وي په یو سړي باندې او هغه راتلونکی سړی غواړي چې ستاسې امسا ماته کړي او یا ستاسې په ټولي کې تفرقه واچوي، نو هغه ووژنئ.

دامام مسلم په یو بل لفظ کې راځي:« فَمَنْ أَرَادَ أَنْ يُفَرِّقَ أَمْرَ هَذِهِ الأُمَّةِ وَهِيَ جَمِيعٌ، فَاضْرِبُوهُ بِالسَّيْفِ كَائِنًا مَنْ كَانَ».[١٨]

ژباړه: پس څوک چې ددې اراده ولري چې تفرقه واچوي دامت په کار کې حال داچې هغوی را ټول وي ، نو ووهئ هغه په توره باندې هرڅوک چې وي.

امام سرخسي رحمه الله لیکلي دي:(فإن كان المسلمون مجتمعين على واحد وكانوا آمنين به والسبيل آمنة فخرج عليه طائفة من المسلمين فحينئذ يجب على من يقوى على القتال أن يقاتل مع إمام المسلمين الخارجين لقوله تعالى { فإن بغت إحداهما على الأخرى فقاتلوا التي تبغي } والأمر حقيقة للوجوب ولأن الخارجين قصدوا أذى المسلمين وإماطة الأذى من أبواب الدين وخروجهم معصية ففي القيام بقتالهم نهي عن المنكر وهو فرض ولأنهم يهيجون الفتنة قال - صلى الله عليه و سلم - ( الفتنة نائمة لعن الله من أيقظها ) فمن كان ملعونا على لسان صاحب الشرع - صلوات الله عليه - يقاتل معه). [١٩]

ژباړه: کله چې مسلمانان په یو کس (امیر) باندې راټول وي او د هغه په وجود کې په امن کې ژوند کوي او لارې هم په امن کې وي او بیا د هغه په مقابل کې د مسلمانانو یوې ډلې خروج وکړ، نو په دغه وخت کې په هغه چا واجب دي چې په جنګ کې تکړه وي چې د امام سره د خوارجو په مقابل کې جګړه وکړي ، ځکه الله تعالی فرمایلي دي:( که چیرې یوې ډلې بغاوت وکړ په بلې ډلې باندې، نو جګړه وکړئ له هغه ډلې سره چې بغاوت کوي) او دا امر د وجوب لپاره دی. بل داچې د خارجیانو قصد خلکو ته تکلیف رسول دي او دلارې څخه اذیت کوونکی شیان لرې کول ددین له بابونو څخه دي. او د مسلمانانو خروج معصیت دی او ددوی سره جګړه کولو کې د منکر څخه نهی ده چې دا کار فرض دی، بل داچې دا خارجیان فتنه راپورته کوي ، نبي علیه السلام فرمایلي دي( فتنه ویده ده، لعنت دې وي په هغه چا چې را پورته یې کړه) ، نو څوک چې د صاحب د شریعت -صلوات الله علیه- په ژبه ملعون وي ، نو د هغه سره به جګړه کیږي.

د آزادۍ ساتل هله ممکن دي چې د خپل واحد امیر اطاعت وشي او د هغه د حکمونو، فرامینو او لارښوونو او قوانینو پابندي وشي.

---

[١٧] - صحیح مسلم (٦/ ٢٣)

[١٨] - صحیح مسلم(٣/ ١٤٧٩)

[١٩] - المبسوط للامام السرخسي(٦/ ١٣٨)

**۳-د افغانســتان او هیواد سره د خیانت کولو څخه ځان ژغورل.** همدا راز د افغانستان د آزادۍ دساتنې تقاضا داده چې د وطن سره له خیانت کولو څخه ځان وساتو. ځکه خیانت ډیر بد عمل دی. الله تعالی فرمایلي دي:(إِنَّ اللَّـهَ لَا يُحِبُّ الْخَائِنِينَ).[۲۰]

ترجمه: بېشکه الله نه خوښوي خیانت کوونکي. د هېواد له شتمنیو سره خیانت، د بیت المال غلا، رشوت، اداري فساد او د خلکو د حقوقو خوړل د ملت قوت کموي او د بهرني نفوذ لپاره زمینه برابروي.

د وطن سره خیانت ډیر شکلونه او صورتونه لري لکه: د امارتي ملکیتونو او د خلکو د مالونو او ملکیتونو چور او په ناروا لارو یې ضائع کول، په دولتي او امارتي دنده کې تقصیر کول او د وظیفې حق نه اداء کول او په وظیفه کې خیانت کول، د افغانستان په چارو کې سستي او تنبلي کول ، د دولتي ملکیتونو تخریبول او ماتول، ددولتي او امارتي وسائلو څخه ناوړه او غیر مجاز استفاده کول، چوکۍ او منصب غنیمت ګڼل او له هغې څخه ناوړه استفاده کول، د شرعي قانون څخه سرغړونه او د قانون په تطبیق کې د عدالت نه رعایتول، د خلکو په حقوقو تجاوز کول، د شرعي قوانینو او د امیر المؤمنین حفظه الله د فرامینو خلاف کړنې ترسره کول، کفري او غیر شرعي عاداتو او تقالیدو ته د خلکو دعوتول، په خپلو منځو کې د امر بالمعروف او نهی عن المنکر کار پرېښودل او د اشـغال پر وخت رائجو ناروا کارونو، کړنو او قوانینو ته خلک رابلل، چې دا ټول کارونه د افغانســتان د آزادۍ سره خیانت دی او دآزادۍ د لمنځه تللو او د نظام د کمزوري کیدلو سبب ګرځي.

**۴-د افغانستان له آزادۍ او خپلواکۍ څخه په شریکه دفاع کول او هغه ساتل.** د افغانستان د آزادۍ د ساتنې تقاضا داده ، چې مونږ ټول د دې آزادۍ او خپلواکۍ څخه په شریکه دفاع وکړو.

الله تعالی فرمایي:(وَأَعِدُّوا لَهُم مَّا اسْتَطَعْتُم مِّن قُوَّةٍ).[۲۱]ترجمه: او تیاروئ (ای مؤمنانو)لپاره دجنګ د دغو (ماتوونکو د عهد یا دمطلق کفارو) څومره چې توانیږئ (جمع کولی شئ) تاسې له قوت(اسباب د جنګ)

د دې آیت مفهوم یوازې په یوه برخه پورې محدود نه دی؛ بلکې مسلمانان باید د خپل وخت د اړتیاوو مطابق علمي، اقتصادي، صنعتي، دفاعي او تخنیکي توان ولري.

موږ باید داسې هېواد جوړ کړو چې خپل ځوانان پکې د کار زمینه ولري، خپل بزګران پیاوړي وي، خپل صنعت ولري، خپل تولیدات ولري او د نورو له محتاجۍ څخه تر ممکنه حده ځانونه خلاص کړي.

د افغانستان دآزادۍ د ساتنې تقاضا داده، ټول نظام او ولس د هغو شریرو عناصرو په مقابل کې متحد شي چې غواړي د آزادۍ په نتیجه کې لاسته راغلی امنیت ګډوډ کړي او دخلکو څخه آرامي او سکون واخلي او یو ځل بیا افغانستان نوي یمې کلیزې ته بوزي او په افغانستان کې ولاړه آبادي ړنګه کړي او کوڅه په کوڅه د وینو سیلابونه وبهوي.

مونږ باید شریرو عناصرو ته په خپل کور او کلي کې ځای ور نکړو او په مقابل کې یې له نظام سره هر ډول لازمه مرسته وکړو.

د ضرورت پر مهال په ځان او مال سره د افغانستان د آزادۍ او خپلواکۍ څخه سره دفاع وکړو او د افغانستان دآزادۍ او خپلواکۍ دښمنان پرینږدو چې دا آزادي او خپلواکي زمونږ څخه سلب کړي.

[۲۰] -الأنفال:( ۵۸)
[۲۱] -الأنفال:( ۶۰)

په اسلام کې جهاد یواځې پر دښمن باندې هجوم وروړولو پورې منحصر نه دی ، بلکې جهاد ددښمن دفع کول او ددښمن څخه ولس ساتلو ته هم شامل دی. الله جل جلاله فرمایلي دي:(وَقَاتِلُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ الَّذِينَ يُقَاتِلُونَكُمْ).(٢٢)

ترجمه: او جنګ کوئ (ای مؤمنانو) په لاره د الله کې له هغو کسانو سره چې جنګ کوي له تاسې سره.

همدارنګه جهاد د وطن، ولس، نظام او د هیواد دآزادۍ د ساتلو په موخه په لومړي خط کې پیره کولو ته هم شامل دی.
په حدیث شریف کې راځي:عَنْ سَلْمَانَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- يَقُولُ « رِبَاطُ يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ خَيْرٌ مِنْ صِيَامِ شَهْرٍ وَقِيَامِهِ».(٢٣)

ژباړه: د حضرت سلمان فارسي رضي الله عنه څخه روایت دی ، هغه وایې ما درسول الله صلی الله علیه وسلم څخه واوریدل چې وه یې فرمایل: ددښمن سره په اول خط کې یوه ورځ او یوه شپه تیرول غوره دي د یوې میاشتې د روژې څخه او د یوې میاشتې د قیام اللیل څخه.

د هېواد د آزادۍ او خپلواکۍ څخه دفاع یوازې د عسکرو دنده نه ده؛ بلکې علماء، استادان، محصلین، سوداګر، بزګران، متخصصین او ټول ولس د هېواد په آبادۍ او ساتنه کې خپله ونډه لري.

مجاهدین باید په سلاح سره د افغانستان دآزادۍ ساتنه وکړي، علماء باید د علم په خپرولو او د کفري فکري جګړې سره مبارزه وکړي ، ډاګټران ، انجینیران او معلمین د سالمې ټولنې په جوړښت او د افغانستان په آبادولو کې برخه واخلي.

میندې باید د جهاد او د وطن څخه ددفاع لپاره بچې او اولادونه وروزي. خبریالان باید د ناوړه او د افغانستان د آزادۍ مخالف خبرونو درواغ او خپرونې ولس ته په ډاګه کړي.

**۵-د افغانستان د آزادۍ او خپلواکۍ د ساتنې لپاره خپلمنځي یووالی او وحدت ساتل.** د افغانستان د آزادۍ او خپلواکۍ د ساتلو تقاضا داده چې ټول ملت په خپلو منځونو کې وحدت او یووالی وساتي او له اختلافاتو او دښمنیو څخه ځانونه وساتي.الله تعالی فرمایي:(وَاعْتَصِمُوا بِحَبْلِ اللَّهِ جَمِيعًا وَلَا تَفَرَّقُوا).(٢٤)

ترجمه: او منګولې ولګوئ (ای مؤمنانو) په رسۍ د الله چې قرآن دی ټول او مه سره مختلف کېږئ (وروسته له اسلامه).

د آزادۍ او خپلواکۍ د ساتلو لپاره ملت باید له داخلي اختلافونو، قومي تعصبونو، ژبنیو او سمتي شخړو څخه ځان وساتي.

الله تعالی فرمایلي دي چې ستاسو خپلمنځي اختلافات ستاسو حکومتونه له منځه وړي.

(وَأَطِيعُواْ اللّهَ وَرَسُولَهُ وَلاَ تَنَازَعُواْ فَتَفْشَلُواْ وَتَذْهَبَ رِيحُكُمْ وَاصْبِرُواْ إِنَّ اللّهَ مَعَ الصَّابِرِينَ).(٢٥)

---

[٢٢] -البقرة:(١٩٠)
[٢٣] - صحیح مسلم (٦/ ٥٠)
[٢٤] -آل عمران:( ١٠٣)
[٢٥] -الانفال: (٤٦)

ترجمه: او حکم ومنئ تاسې د الله او د رسول د دغه الله او مه کوئ جګړه په خپلو منځونو (په کار د جهاد کې) پس بې زړه به شئ تاسې او لاړ به شي باد (د نصرت او قوت او د دولت)ستاسې او صبر کوئ (په قتال او سختیو) بېشکه الله له صابرانو سره دی (په جنګ کې په نصرت او حفاظت).

امام نسفي رحمه الله( وتذهب ريحكم) په تفسير کې ليکي:أى دولتكم.[26]

ژباړه:لاړ بشي دولت او حکومت ستاسې، ستاسې د لاسه .

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي:«المؤمن للمؤمن كالبنيان يشد بعضه بعضاً.».[27]

ژباړه: یو مؤمن د بل مؤمن لپاره د داسې ودانۍ په څېر دی چې یوه برخه یې بله برخه ټینګوي.

که ملتونه سره متحد وي، د ستونزو پر وړاندې قوي کېږي؛ او که په خپلو کې سره وویشل شي، د بهرني دښمن لپاره د نفوذ زمینه برابرېږي.

**٦-دافغانستان د آزادۍ او خپلواکۍ د ساتنې لپاره خپل اقتصاد او عصري ټکنالوژۍ پیاوړې کول.** همدارنګه د هېواد د تلپاتې آزادۍ لپاره باید زموږ ځوانان په دیني او عصري علومو، طب، انجینري، اقتصاد، زراعت، ټکنالوژۍ، دفاعي علومو او نورو ګټورو برخو کې روزل شي.

د افغانستان دآزادۍ او خپلواکۍ د ساتنې تقاضا داده چې مونږ باید خپل اقصاد پیاوړی کړو.یوه کمزورې اقتصادي ټولنه په آسانۍ سره د نورو محتاجه کېږي.

مونږ لره په کار دي چې کار وکړو، تجارت وکړو، تولیدات ولرو او په صنعت کې په ځان بسیا شو او په صعنت کې ډیرې لاسته راوړنې ولرو، ترڅو د نورو هیوادونو ته محتاج نشو ، ځکه نورو هیوادونو ته احتیاج په یو ډول دانسان آزادي سلبوي.

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:«مَا أَكَلَ أَحَدٌ طَعَامًا قَطُّ خَيْرًا مِنْ أَنْ يَأْكُلَ مِنْ عَمَلِ يَدِهِ».[28]

ژباړه: هیڅا تر دې غوره خواړه نه دي خوړلي چې د خپل لاس له کاره یې خوړلي وي.

نو د هېواد د آزادۍ د ساتنې لپاره مونږ باید تولیدات زیات کړو، زراعت پیاوړی کړو، صنعت جوړ کړو، ملي اقتصاد قوي کړو او له بې ځایه اقتصادي وابستګۍ څخه ځان وژغورو.

**٧-دافغانستان د آزادۍ او خپلواکۍ د ساتنې لپاره ددښمن د ناوړه تبلیغاتو سره مقابله کول او مخه یې نیول.** د افغانستان د آزادۍ او خپلواکۍ د ساتنې تقاضا داده چې د ددښمنانو ددرواغجنو تبلیغاتو مخه ونیسو.

نن ورځ د جګړې یوه مهمه وسیله تبلیغات او دروغجن معلومات دي.

---

[26] - مدارك التنزيل للنسفي(٢ /٦٨)

[27] -متفق عليه

[28] - صحيح البخاري ت (٥ /٢٤٢)

الله تعالی فرمايي:(يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِن جَاءَكُمْ فَاسِقٌ بِنَبَإٍ فَتَبَيَّنُوا).[29]
ترجمه:ای هغو کسانو چې تاسو ايمان راوړی که چېرې راتګ وکړ تاسو لره فاسق او بد کار په يوه خبره سره نو تاسو ښه تحقيق په کې وکړئ

نو مونږ لره په کار دي چې مونږ بايد هر خبر، ويډيو، اوازه او پيغام بې له تحقيق څخه نورو ته انتقال نه کړو؛ ځکه يوه دروغجنه اوازه کولای شي د ټولنې ترمنځ اختلاف او بې‌باوري رامنځته کړي او د هيواد آزادي او خپلواکي تهديد کړي.

د آزادۍ او خپلواکۍ د ساتنې تقاضا داده چې مونږ بايد خپل وطن آباد کړو .

**۸- دافغانستان د آزادۍ او خپلواکۍ د ساتنې لپاره د وطن او هيواد د هراړخيز آبادلو لپاره په دوامداره توګه کار کول.** د موږ بايد د آزاد افغانستان د جوړولو لپاره کار وکړو؛ داسې افغانستان چې پکې مسجدونه آباد وي، مدرسې او پوهنتونونه فعال وي، روغتونونه يې فعال وي، سړکونه او پلونه جوړ وي، کرنه او صنعت وده وکړي، ځوانان کار ولري، يتيمان او بېوزله خلک د مرستې احساس وکړي او د خلکو عزت او حقوق خوندي وي. الله تعالی فرمايي:(هُوَ أَنْشَأَكُمْ مِنَ الْأَرْضِ وَاسْتَعْمَرَكُمْ فِيهَا).[30]

ترجمه:الله تعالی هغه ذات دی چې پيدا يې کړلی تاسې د ځمکې څخه(دآدم عليه السلام پيدايښت) او بيا يې وګرځولی تاسې آبادوونکې دځمکې .[31]

**۹-دافغانســتان د آزادۍ او خپلواکۍ د ساتنې لپاره خپل آينده نسل په اسلامي روحيه روزل.** د آزادۍ او خپلواکۍ د سـاتنې تقاضا داده چې موږ بايد خپل ماشومان داسې وروزو چې د خپل دين، وطن او خلکو خدمت ته ژمن وي.

هغوی بايد زده کړي چې وطن يوازې خاوره نه ده؛ وطن د انسـانانو کور دی. د وطن خدمت يوازې شعار نه دی؛ بلکې علم زده کول، حلال کار کول، د خلکو خدمت، د عامه مال ساتنه، د قانون رعايت، د چاپېريال ساتنه، د فساد مخنيوی او د ټولنې اصلاح هم د وطن خدمت دی.

نو راځئ چې خپلو اولادونو ته داسې تربيه ورکړو چې دين‌داره، عالم، بااخلاقه، مسلکي، مسؤول او د خپل هېواد د خير غوښتونکي وي.

د خپلواکۍ ساتنه يوازې په جګړه او وسله نه کېږي؛ بلکې د هېواد ساتنه په علم، تقوا، عدالت، اقتصاد، صنعت، تعليم، يووالي، اخلاص او ښه حکومتولی هم کېږي.

که يو هېواد له بهرني اشـغال څخه آزاد وي، خو خلک يې په ناپوهۍ، فقر، فساد، ظلم، اختلاف کې ژوند کوي، نو د خپلواکۍ حقيقي ثمره يې لا نه ده ترلاسه کړې.

**استغفرالله العظيم الجليل الكريم لي ولكم إنه هو الغفور الرحيم.**

**والسلام عليكم ورحمة الله وبركاته**

[29] - الحجرات:( ٦)
[30] -هود:(٦١)
[31] - تفسير ابن أبی زمنين (١/ ٢٩١)